پیشرو خپرونه ۵۱ گڼه
لیکوال:تلیاد داد نورانی

۲۱ سپتمبر ۲۰۱۵

## کابلیان یې په وینو لیکي

### ... او موږ تر تایمنی وژړل

د کابل هوا خوندوره وه. پسرلي سره د پانو نرمي غوټۍ سپړیدي او له لیري به سندریز مرغان د میني او نومیالو ښار ته را روان وو. دوی میاشتي کیدې چي افغانستان د راډیوګانو د خبرونو سرلیک و. خوښۍ او ویرې د کابلیانو په زړونو کي ځپې وهلي.

زموږ اته کسیزه کورنۍ په څلورمي کارته کي د ګوزارې ژوند درلود. زما پلار چي ملګرو یې تر نامه وروسته «خان» ویل، مذهبي و. سیاسي پیښنو سره جوړ نه و. په جاده کي یې د پرزو دکان درلود. په هغو ورځو کي خوشاله او مسکی و. هره پلا تر لمانځه وروسته یې په لوړ غږ ویل: خدایه مجاهدین بریالي کړې! له همدی امله مجاهدین پر ما، نه لیدلي، ګران وو او چي دولت هغوی ته اشرار ویل، زما به بد راتله.

د لمر وړانګي لا د آسمایي پر څوکه نه وې لګیدلي چي کمزوري دولت سقوط کړی و او « فرشتي» کابل ته ننوتلي. موږ د هغوی په راتګ سره جشن ونیو او د خوشالۍ اوښکي مو توی کړې. کله چي له خوبه پاځیدم، پلار مې ناره کړه: «پلانکیه» نن ښوونځي ته لاړ نشې، اوضاع مالومه نه ده، سیاف او مزاري یوه بل ته تندي خبرې کړي. برابې تر سهاره د موټرانو ګرګر خوب راخڅه وړی و.

په جومات کي هم خلکو ویل: پر ټولو سړکونو یې مورچلي جوړې کړې، خدای دي خیر کړي. زړه مي ولوید. زما ۱۷ کلنه خور تر ما زیات په وهم کي وه او په ریږدیدلي غږ یې وویل: زموږ وضع به څنګه شي؟ پلار مي په عاجزی ورته کتل خو کوم ځواب یې نه درلود.

په کابل کي یوه عجیبه ګډوډي رامنځته شوې وه. زه تر هغه وخته د مجاهدینو تر منځ په دومره ټینګو اختلافاتو خبر نه وم. اوریدلي مي وو چي اسلامي حزب تل د نورو حزبونو سره په لانجه کي دی. د غرمي ۲ بجي شاوخوا خپل کور سره سړک ته ووتلم. لومړی ځل و چي مجاهدین مي لیدل، هغوی ټوله په قار ښکاریدل او په غوسې یې لارویو ته کتل.

هغوي څخه مي یو ډول د ویرې احساس وکړ. یو زوړ سړی چي په چټکی زموږ د کوڅي خواته روان و، راته وویل: د حاجي زو، ژر کور ته لاړ شه، خبره خرابه ده. هغه په دومره چټکی روان و چي د خبرې په پای یې پوه نه شوم. لا د همدې لاروي خبرې مي په سر کي ګرځیدي چي یو راکټ پر آسمایي ولګید. کابل کي د تالندې په شان غرهاری شو، لا خبر نه وم چي راکټ به مشخصه پر کوم ځای لګیدلی وي چي قیامت پیل شو. په نیم ښار کی رباني او ګلبدین او په بله نیمه کي یې سیاف او مزاري له کابل څخه نغری جوړ کړی و چي کابلیان لکه چوغکې په کي سوځیدل. له ټوله ښاره

اور او دود پورته کیده. خلکو د امن ځای په لټه هري خواته منډې وهلې. مور زیرزمینی ته ولاړو او پلار مي هی ناري وهلې: څوک و نه وځي! کابل زموږ لپاره زندان شو. هغه اوونی مو په زیرزمینی کې تیره کړه او چاودنو سره کرار کرار عادت کیدلو. د شپې به یو دوه ساعته ویده وو. ماشومانو تر نورو لږ ژړل. زما خور په هغه بد حالت کې راته ډوډۍ پخوله او که د ورځې یو وخت هم ډوډۍ راته رسیدلې وای، لویه خبره وه.

اوونۍ وروسته جګړه یو څه سړه شوه. دانه مانه مرمی پر مخامخ مورچل لګیدې او موږ وتوانیدو چې زیرزمینی څخه ووځو. ویل کیدل چې ملګري ملتونه جګړه دروي او «رهبرانو» ته یې اخطار ورکړی. زموږ لپاره ټولې لارې تړلې وې او یوازینی هیله مو ملګري ملتونه وو. مجبور وو چې ځانونو ته په درواغو تسکین ورکړو. تر دري میلیونه زیات کسان په ښار کې برمته پاته وو. موږ ټوله په مرګ محکوم وو. هغوی چې د مجاهدینو تر منځ د شخړو څخه له مخکې خبر وو، په زهرجنه خندا یې ویل: دوی ځانونه اکمالوي، خپل غم وخوری.

دوې ورځې وروسته زموږ ټولې محاسبې صفر شوې. لا د سهار لمونځ نه و شوی چې لیوان په خپلو کې سره ولویدل او جګړه په شدت بیرته پیل شوه. تر څو مو ځانونه ټولول چې په زیر زمینی کې پټ شو، یو راکټ زموږ پر کور ولګید. زما د پلار یو شاګرد چې زموږ سره اوسید، د چاودني په منځ کې ګیر شو. د راکټ پارچو زما د مور سر او مخ په وینو ولړه. موږ ټوله بې سده شوي وو. زما پلار په تورتم او د لوګي په منځ کې دې خوا هاخوا منډې وهلې. زما خور په اوچته د اخ ناري وهلې. ما د حرکت توان نه درلود. زما د خور پښه پرې شوې وه او وینه تري بهیدله. چې سترګې مې د هغې د ورون پر شړیدلي غوښې او هډوکي ولګیدې، چیغه مې کړه او سر مې په خپل غیږ کې پټ کړ. زما پلار هغه په غیږه کې واخیستله او د مرمیو تر باران لاندې د دروازی خواته په منډه شو. موږ و نه پوهیدو چې پر کومه ولاړ.

زما خور یې د سرې میاشتې روغتون ته ورسوله. ډاکټرانو د هغې د پرې شوې پښې وینه ودروله او پلار ته یې نسخه ورکړه چې د هغې د بلې پښې د ژورو ټپونو لپاره له یوه ځایه درمل راوړي. خوارکی پلار، لکه لیونیانو پر سړکونو منډې وهلې چې یو درملتون پیدا کړي. په همدې وخت کې د وسله والو کسانو یو ډاټسن یې اړخ ته دریږي، بې له ځنده هغه موټر ته خیژوي او ځان سره یې وړي. موږ یو بل ورک کړي وو. خور مي ټپي او یوازې په روغتون کې؛ پلار اختطاف، مور مي ټپي او ما د خپلو کوچنیو خویندو او ورونو سره د زیر زمینۍ په تورتم کې د مرګ شیبې شمیرلې. زموږ کوڅه تقریباً خالي شوې وه. د خپلو ملګرو او خپلوانو خبر مو نه درلود، هر څوک د ځان په غم کې وو. د یوه ښار ټول وګړي د پلازمیني په نامه یوه مسلخ کې ذبح کیدو ته چمتو شوي وو.

اته ورځې وروسته د یوه مسلح پیکپ له خوا زما د پلار خبر راغی: «زه برمته شوی یم، که غواړئ ما بیرته ووینئ نو زما د خلاصون لپاره زر لکه افغانی برابري کړئ، که نه ما به ضربه کړي. ستاسو خور په سره میاشت روغتون کې بستر ده، خبر یې واخلئ.» د بدن ویښتیان مي شخ ودریدل. د لومړي ځل لپاره زما د پلار د دعاو پایله راته سرچپه ښکاریده.

په سبا چې د راکټ فیرونه یو څه کرار شول او له مور سره روغتون ته ولاړم. هیڅ د منلو وړ نه وو چې زما د خور بله پښه یې هم پرې کړې وه. ډاکټرانو وویل: موږ زیاته هڅه وکړه خو درمل و نه رسیدل او له پرې کولو پرته بله چاره نه وه. زما خور په بستر کې بیخي لنډه شوې وه. چې سترګې مي وربانډې ولګیدې، بې سده شو. مور مي ځان پر مخ واهه، ژړل یې او زما خور یې ښکلوله.

زما پلار دوې نیمې میاشتې د وسله والو په زیر زمینیو کې بندي و، چې همدا خپله یوه غمناکه کیسه ده. زما کاکا چې په تایمني کې اوسیده، د زیاتو هلوځلو او زر لکه افغانی ورکولو وروسته یې زما پلار وژغوره. پلار چې کور ته راغی او زما د خور دواړه پښې یې پرې شوې ولیدې، خپل سر یې پر دیوال واهه او ژړل یې چې افسوس وبې نشوای کولای چې

ځو امپوله او کپسوله روغتون ته یوسي. په سبا یې یو څه کراري شوه. خلکو ځانونو ته ډوډۍ برابروله، هغوی پوهیدل چې بیا جګړه زور اخلي. زما پلار وروسته له یوه ځنډه سمدستي تصمیم ونیو چې تایمني ته ځو. هغه هله هله کول. زه، زما مور او نور هلکان د ضروري لوازمو په ټولولو اخته شو. پلار مې ځو ځله وویل: ښه شیان ځان سره وانخلئ چې د لارو تر منځ پوستې یې تالا کوي. شاید مور د ځو کمپلو په خاطر ووژني.

پلار مې له مخامخ سړک څخه دوو زړو کراچۍ والاو سره راغی. د هغوی پر څیرو اندیښنه او د درې میاشتو لوږه له ورایه ښکاریده. د تلویزیون غره باندې راکټونه لګیدل او لوګی ورڅخه پورته کیده، د کابل آسمان په لوګي ککړ او ویر کې و. مور شیان تر کراچۍ راوړل او پلار مې کراچۍ وان سره هغه ژر ژره تړل. وروستی شی چې باید کراچۍ ته وړل شوی وای، زما خور وه. هغې ژړل او ما ورته دلداري ورکوله، چې سمدلاسه یوې چاودنې زمونږ د کور دروازه په هوا کړه. ما ځان پر خپلې خور واچوه، کله چې هوا یو څه روښانه شوه د پلار خواته وځغاستم، خو د هغه او د دوو کراچۍ والاو کوم اثر پاتې نه و. ځو لاروي او یو دوه ګاونډیان سره راټول شول. نور نو تایمني ته د وړلو لپاره څه پاتې نه وو... زما اکا راغی او مور تر تایمني وژړل.